غمخور، هېوادودوست، خواخوږی ۲۰۱۰/۰۲/۲۵م

# دخواشينۍ او ډاډګيرنې دخرګندولو پيغامونه

## لمړی: سويډن دمالمو ښار

هغه لاسونه دې مات سي چې پر تاړوته سول

تير ويرمولاهيرنه وو چې دپښتنو،علم اوفرهنګ قسم خوړلو دښمنانوزموږ ولس اوپه ځانګړې توګه دقندهاردتاريخي ښار اوسېدونکي دوير پر بلې کمبله کښېنول.

نن سهار مودډله ايزو رسنيو له لاري دکندهار ولايت د اطلاعاتو او کلتور رياست رييس داروښاد عبدالمجيد بابي په شهادت رسېدلو ډير خواشينوونکی خبرترلاسه کړ .انا الله انا اليه راجعون

اروابشادعبدالمجيد بابي د هېواد د ادبي ډګر ځلانده ځيرې ددېرو ستونزواوکړاونو په زغملوسره په خپل ټول توان اوطاقت نه يوازي دکندهاربلکې دټول هيوادپه کچه دافغاني کلتورد پياوړتيا اوځلېدولپاره نه کيدو هېرېدونکي وياړلي خدمتونه کړي دي.

اروښاد عبدالمجيد بابي يوغښتلي فرهنګي شخصيت شاعر اوتکړه ليکوال وو. دغه بېلګه او وړتيا ددې لامل وګرځېده چې دافغان ولس اوپوهي دښمنان نه غواړي داسي شخصيتونه ژوندي پاته سي .خوېدې بايد پوه وي چې د اروښاد عبدالمجيد بابي شهادت به نه يوازي داچي په زرهاوو نور پر وطن مين شاعران ،ليکوالان او اديبان راوزېږوي بلکه دهغه دشهادت دعاملينوپه وړاندي ئي دټول افغان ولس کرکه اونفرت راوپاراوه .

په سويډن کي ددوستی فرهنګی ټولنې مشرتابه جرګه اودروزګان ملي مهالنۍ خپروني اداره پداسي حال کښي چي داروابناد عبدالمجيد بابي په شهادت رسول اودغه تروريستي عمل په کلکه غندو، ځان داروابناد دغمځپلي کورنی ،دوستانو،علاقمندانواوټولوفرهنګيانوسره پدې ستر غم کي شريک بولو د لوی خدای ( ج ) له دربار نه شهيد عبدالمجيد بابي ته فردوس جنت غوښتنه کوو.

روح دي ښاد اويادې ابدي وي .الحکم الله

دټولني دمشرتابه جرګي اوروزګان ملي مهالنۍ خپروني داداري په استازيتوب

حبيب الله غمخور

********

## دوه هم: له ډنمارک څخه د خواشينۍ پيغام

له بده مرغه دا دی دا ځل د تورتم استازو او دقلم او ژبې دښمنانو له موږ څخه د افغانستان يو تن ملی ، مسلمان او زياركښ ژورناليست، ليکوال او فرهنګي خادم واخيست، هغوي په خپلو ناولو مرميو د يو بل خدمتګار پښتون ټټر سوری سوری کړ، هغوي لا اقل ددې انديښنه هم و نه کړه چې په دا دومره بدايه او مره دموکراسۍ کې د پښتو ادب او ژورناليزم برخه څومره محدوده او کمزورې ساتل شوي او که شته هم دا يو څو په شمار زموږ فرهنګيان چې يو يو رانه په دې او هغي نامه وژني او دا دی اوس يې تل ياد عبدالمجيد بابی په نښه کړ، دا لا څه کوئ چې بيا دا قاتلان پر خپل ناولي عمل وياړ هم کوي . لوی خدای دې بابی صاحب وبښي او ښه جنتونه دې ور په برخه کړي . او قاتلانو ته تاترين دوزخونه غواړو .

د خپلواکی فرهنګي مرکز او دلته په ډنمارک او ټولو سکندناوي هېوادو کې يو شمېر په کلتور مين افغانان، په دې توګه په داسې حال کې چې د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ رئيس ترور د هېواد ملي کلتور ته د خدمت په لاره کې يوه ستره ضايعه او کمزورتيا بولي، د اروابناد بابي له کورنی ، دوستانو ، خپلوانو او ټولو افغاني فرهنګيانو سره په دغه غم کې ځانونه شريک بولي او دوي ته د پاک الله له دربار څخه د جميل صبر هيله کوي .\

موږ په دې توګه دا هم څرګندوو چې اوس اوس د هېواد دښمنان د پښتنو فرهنګيانو او د کلتور د لارې د خادمانو د ورکولو نيت په سرونو کې ګرځوي ، ټول افغان ملت بايد په يو لاس او يو غږ او په پوره هوښيارتيا د دښمنانو دغه ناولي اعمال نه يوازې وڅاري چې په هرې ممکني ذريعي يې مخه هم و نه نيسي .

الله دې زموږ او د هېواد مل شي .

د ګران افغانستان د کلتور د خادمانو د هوسا او بسيا ژوند په هيله .

په درښت

يوسف هېوادودوست

************



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ

دریم: دخواخوږی ادبي او کلتوري ټولني د خواخوږي پیغام

نیټه: ۱۳۸۸/۱۲/۵ ـ ۲۰۱۰/۲/۲۴

په خورا خواشینی سره مو خبر ترلاسه کړ چي د هېواد خوږ ژبي شاعر، پیاوړي لیکوال، وتلي ژورنالیست او خواخوږی ټولنیز شخصیت ښاغلي عبدالمجید بابي نن د کندهار په ښار کي د هېواد د فرهنګ او ادب د دښمنانو لخوا په شهادت ورسیدي.

انا لله و انا الیه راجعون

اروابناد بابي د هېواد د ادب د ډګر ځلانده ځیره، د افغاني کلتور د بیا پیاوړتیا پلوي چي د هېواد دکلتور او مطبوعاتو د پیاوړتیا لپاره نه ستړي کیدونکي چاري ترسره کړي او ډېري ستونزي یې زغملي وي.

د شهید بابي هلي ځلي نه یوازي په کندهار کي بلکه په ټول هېواد کي د فرهنګپالانو او علمي ټولنو د تائید او د منلو وړ دي.

د خواخوږی ادبي او کلتوري ټولني مشرتابه پلاوي او ټول غړي د هېواد د فرهنګ د دښمنانو دغه نا ځوانمردانه عمل په کلکه غندي، د لوي خداي (ج) د دربار ځخه شهید بابي ته جنت الفردوس، درني کورنی او د هېواد ټول فرهنګپالانو ته جمیل صبر او زغم غواړي.

روح دي ښاد وي.

په درنښت،

الحاج غرزي خواخوږی

د خواخوږی ادبي او کلتوري ټولني مشر

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ